د هیواد والی مفهوم

لیکوال

د ازهر د اصول دین د پوهنځي ریس أ.د. عبد الفتاح
عبد الغني العواري

وړاندی کونکي

د ازهرشریف د لویوعلماوو د مؤسسي د غړي
او د ازهر د فارغانو نړیوالی مؤسسی د مشر مرستیال
أ .د.محمد عبدالفضیل القوصي

ژباړه : لایق جان بیا کتنه : قریش الله احمدزی

د ازهر د فارغانو نړيواله مؤسسه

د تندروو مفکورو د باطلولو مرکز د تندرووومفکورو د باطلولو لړۍ :(۱)

د هيواد والی مفهوم

عمومي څارونکي ليکوال : عبد الفتاح عبد الغني العواري

أ .د.محمدعبدالفضيل القوصي په دغي مؤسسه کې د ثبتولو شميره :۲۰۱۸/۲۶۶۳۹

داداري شورا رئيس نړيواله شميره : ۲_ ۶_ ۸۵۴۶۲_ ۹۷۷_ ۹۷۸

أسامة ياسين

عمومي مدير

حمدالله الصفتي

خبرداري

د دي کتاب ټول حقوق د ازهرشريف د فارغانو نړيوالي مؤسسي ته ساتلي او خوندي دي، او ددغي مؤسسي له مخکيني ليکلي موافقي پرته د دي کتاب د خپرولو، يا بيا خپرولو، يا د کتاب يا د هغه دهري برخي د توليدولو، يا د راګرځولو يا د بيا ترلاسه کولو په وسائلو باندي د هغه د کوټ کولو يا په هرډول د هغه د ثبتولو اجازه نشته .

د ازهرشريف د فارغانو نړيواله مؤسسه

د تندروو مفکورو د باطلولو مرکز

جامعة الأزهر-الحی السادس- مدينة نصر

تليفون : ۲۳۸۶۸۱۱۴ ۲۰۲+

فاکس :۲۳۸۶۸۱۱۶ ۲۰۲+

بريښنالیک :

بريښنايي سايټ

د تندروومفکورو د باطلولو لړۍ (۱)

د ازهرد فارغانو نړیواله مؤسسه

د هیواد والی مفهوم

ليکوال : د ازهر د اصول دين د پوهنځي ريس أ.د. عبد الفتاح عبد الغني العواري

د کتاب وړاندي کونکی: د لويوعلماوو د هيئت غړی او ددغي مؤسسی د رئيس مرستيال

أ .د.محمد عبدالفضيل القوصي

مفهوم المواطنة

د هیواد والی مفهوم

azharcenter4trans@gmail.com
Al-Azhar Conference Center (ACC) Building,
4 Ismail El-Qabbany St., off El-Tayaran St,
Nasr City, Cairo, Arab Republic of Egypt.
http://www.azhar.eg/act

په خارجي پوخ باندي د الازهر شریف د جومات انځور دی چې ختیځ پیژاند پریس داوین په قلم رسم شوی
(1807-1879) prisse d'Avennes
لومړی چاپ: 1438هـ/ 2017م.
د امانت شمیره: ۱۷۸۱٦/ 2017

ISIN:

© No parts of this publication may be reproduced, stored in a retrieval system, or transmitted, in any form or by any means, electronic, mechanical, recording or otherwise, without the prior permission of the publishers.

بسم الله الرحمن الرحيم

وړاندي کول

د ازهرشريف د لويوعلماوو د مؤسسي د غړي

أ .د.محمد عبدالفضيل القوصي په قلم

لوی شیخ محیي الدین بن عربي له رمزو او بډایي څخه پخپل ډک کتاب (الفتوحات المکیة) کې وایي چې ربښتیني مسلمان ذات هغه وخت همداسي نشی کیدای چې د هغه باطني وجداني وده له جګیدو اوپاس ختلو اوهسکیدو څخه ودریږي نو- له جهان او د جهان له خالق او پیداکونکي سره پخپله اړیکه کې – هغه باید داسي روحاني معراج اوهسکیدل ولري چې په هغه باندي له ټیټ وجداني حال څخه بل داسي ختونکي حال ته وخیژي چې هغه لا لوړاو ښکلي وي، او که داسي نه وي نو په ټپه دریدو او کلکوالي کې به ګرو او ګیرشي، او په خوب کې د ډوبیدو او مړاوي کیدو نښه به وګرځي**!**

په دغه روحاني معراج او ختلو سره د انساني ذات بې پایه غولي پراخیږي، نو- له دغه ذات سره- ټول موجودات د ژوند په اکسیر او دارو باندي خوځیږي او بیله ژبي خپل خالق ته تراني او تسبیح وایي، او بیله موجودیت څخه سجدي کوي، او وجود یا موجودات د ښا یست او مینې، اوروح او ارامي اوسکونت په سترګو ویني، او پدې باندي د ټول جهان مهار او ولکه د هغه له لیدونکو او نه لیدونکو اړخو سره ترلاسه کوي**.**

که دغه له احساس نه ډک شفاف او صاف نظر او لید زموږ په اوسنیو زمانو کې – دغو زمانو کې چې د مادي ارزښتو رنګ یې اخیستی – د اسلام له څیرې سره له پاسه او د لاندې ګډ شي نو دا به حق ته په تړو او امنیت اوعدالت ته په شوقمنو نفسونو کې دننه د سحر او جادو اغیزه ولري، او د زماني د ډیرو ناروغیو او شکایتو دپاره به بلسم او درمل وي، او زړونو او عقلونو ته به لار ومومي، او د تیارو تور تم اوسخت توروالی به رنا کړي**!!**

که دغه له احساس نه ډک شفاف اوصاف نظر او لید زموږ پدغو زمانو کې د اسلام له څیرې سره ګډ شي: نو ته به له مسلمانانو څخه له داسي خلکو پرته نور څوک ونه مومې چې د هغوی سیني او زړونه له رحم او زړه سوی څخه ډک وي، او په ښه ډول سره عفوه اوتیریدنه کوي، او د بورو

ښځو په زګروو او د کمزورو په دردو دردیږي، او له بدبینیو او پوچو خبرو او تورو کینو څخه پورته کیږي، نو په هرځای کې په انسانانو کې له داسي زړونو پرته نور څه نه ویني چې د حق ښایست ته شوق کوي، او د عدالت په ارزښت باندي په راحت کیږي، او لوړو ارزښتو ته هوس کوي دا بیله دي چې له کرغیړن شدت او بد توروالي څخه کار واخیستل شي، او بیله دي چې ویني تویي شي، یا سرونه پري شي، یا بدنونه ټوټي ټوټي شي!!

خو له احساس نه ډک دغه شفاف لید او نظر- چې په هغه کې شاعري او حکمت سره ګډیږي- متاسفانه، زمونږ په اوسنۍ زمانه کې له ضد څخه د هغه ضد ته بلکه له نقیض څخه د هغه نقیض ته واوښتل ..نو دا لید د هغه بد تصور په برابر کې چیرته دی چې د هغه خاوندانو ته دا خیال پیدا شوی چې اسلام د هغه له عظمت اورحمت او شمول سره دواک د ترلاسه کولو په شهوت کې راغوند شوی، او د حکومت چوکۍ ته په ټوپ وهلو کې محصورشوي دي، او له دغي ډلي سره اسلام د سیاست په لوبه کې بند شو چې په هغې کې مناوري او لوبي کیږي، او د هغه لوړ افقونه او لوړي موخي باد یوړي!

نو دا له احساس نه ډک شفاف اوصاف لید د هغوی تورو ادبیاتو په برابر کې چیرته دی چې د هغه په اساس نړي په غوځ ډول سره په دوو کیږدیو وویشل شوه: د ایمان هغه کیږدۍ چې هغې ته له دغي ډلي پرته نور څوک نه ننوزي، او د جاهلي کفرهغه کیږ دۍ ده چې د هغه له لري کولو او له هغه څخه له خلاصون نه پرته بله چاره نشته، بیا د هغو خاوندان- د سیاست د لوبي په اساس – په وطن کې ورانکاري کوي ویني تویوي او بدنونه ټوټه ټوټه کوي، دا وروسته له دي چې د اسلامي امت غولیدلي ځوانان یې د دښمني اور او د بغض او بدبیني دوزخ ته وروستل، بیایي پریښودل د حکومت کولو په شهوت کې درغبت، او دواک چوکیو ته د شوق په اساس، او د سلطنت په چوکیو باندي د کینستلو په موخه د شدت د کارو اور او دورانکاریو د اور لمبې لا پورته کړي، لکه چې له ټول اسلام – روحیي ارزښتو او مبادیو- څخه له داسي واک اوقدرت پرته چې ښکار کیږي او له داسي حکومت پرته چې د هغه ګدۍ ته ورختل کیږي او له داسي سلطنت پرته بل څه شی ندی پاته چې د هغه په لار کې سرونه بې ارزښته کیږي، او ویني ارزانه کیږي!

دغه له احساسه ډک شفاف اوصاف لید او نظر د هغو کسانو په برابر کې چیرته دی چې ځانونه په سلفیانو پورې موښي او ادعاء کوي چې د سلفي توب وارثان دي بیا هغه د هغې سرسختي اوغلظت او یوي رأیي درواغجنه پرده ګرځوي چې د هغوی طبیعت ګرځیدلی دی، تردي چې په هغو وار د شووشکلو، او وچو نښو کې یې د مسلمانانو پاملرنه وروړوله چې داسي سوری شوی وریي خلاص کړ چې – بیا وروسته - په هغه باندي له هري خوا څخه د ترهګري دعواګانو په هغه باندي اتکاء اوتکیه وکړه، او له هغه څخه زما مقصد هغه څه دی چې د هغوی مروجو ادبیاتو کې (له ممانعت کونکي طائفی سره جنګ کول) ویل کیږي، چې هغه کابو د شر د سپکو الوتونکي سکروټه ده، چې هغه پخوا اوس د شدت د کارونو د ډیرو ډلوعقیدوي اساس ګرځیدلی دی.

دغه له احساسه ډک صاف نظر او لید ددغو ترهګرو مؤسسو په برابر کې چیرته دی چې کرکجن نومونه لري او زمونږ پدغي زمانه کې راپورته شوي او د اسلام او داسلام د خلافت په نامه په درواغو او بهتان سره ناري وهي، بیا د هغو داعیان د نړۍ په مخکي په ځمکه کې وژل او دمړو بدرنګه کول او دسرو پرې کول او دغاړو قطع کول بیله دي سرته رسوي چې د هغوی سترګي ورپیږي، او یا یې زړونه ورته ودربیږي، بلکه بیله دي چې د هغوي په سرسختو ځانو باندي د هغه جرم اندازه ښکاره شي چې هغوی د اسلام په حق کې کړي دي دا هغه وخت چې د اسلام څیره دوینو او دمړو د توتو، او سرونو اوغاړو له څیرو سره مل شي، بلکه دا هغه وخت چې د هغوی ددغه کار د تاثیر او اغیزي له کبله اسلام د ډیرو په نظر کې- په داسي وباء باندي بدل شوی چې په ټول جهان باندي یې چپاو کړي دي . او هغه ذهني څیره به څنګه وي چې د نړۍ د ماشومانو په حافظه کې له هغه اسلام څخه چاپ شوي چې هغوی د هغه د جنډي د پورته کولو او د هغه د کلمي د اوچتولو ادعاء کوي ؟

بیا دغه او هغه کسان دیته پام نه کوي چې هلته بیل لوري ته یو اسلامي روحاني جهاد شته چې ښایي بشریت یې د روح اوعقل او وجدان له لحاظه لوړو او هسکو افقو ته ورهسک کړي، او انسانیت دیته راوهڅوي چې خپلو وړو او لوڅو او ناروغو زامنو ته ډوډۍ او دواء او هغه څه برابر کړي چې د هغوی ژوند پرې ودریږي او په هغه باندي له هغه فردي ورانونکي

انانيت څخه خلاصون ومومي چې له مادي نفعي مدنيت څخه رامنځ ته شوي دي؟

ګوندي موږ به پدغي علمي لړۍ کې هڅه وکړو چې حق خپل ځای ته راوګرځوو او هغه شبهي اوغلطي ګاني لري کړو چې دغي ډلي په اسلام پوري سربيښ کړي دي ترڅو نويو ځوانانو ته د اسلام حقيقت او هغه څه وروښيو چې ښايي هغوی د خپل رب د رضايت او د خپل نبي صلى الله عليه وسلم د پيروي په لار کې په هغه باندي پابندوي.

او له الله څخه توفيق او قبليدل غواړو، او هغه داسي ښه اوستر ذات دی چې له هغه څخه غوښتنه اوهيله کيږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

د وطن سره د مينې سم مفهوم

د وطن سره د مينې مقصد دادې چې يو انسان د خپل وطن سره مينه کوي او دفاع ورنه کوي.

په عربي ژبه کې د (المواطنه) د مفاعله په وزن دی چې يو انسان او د هغه وطن چې انسان پکې ژوند کوي، او هغه وطن پوري اړه لري، نو بايد د هغه کس مينه او اړيکه د همغه وطن سره وي او مينه ورسره ولري.

د انسان لخوا د خپل وطن سره مينه غريزي مينه ده چې د انسنان د پيدايښت سره يو ځای پيداکېږي، په ماثور قول کې راغلی (حب الوطن من الايمان) ژباړه: د وطن مينه د ايمان برخه ده، ويل شويدي:که غواړی د يو کس وفاء درته معلومه شي، وګوره چې ځومره خپل وطن ته وفادار دی.

همدا ډول آسمانی شريعت کې هم په وطندوستی ټينګار شوی، او انسان وطن سره مينې ته تشويق شوی، ترڅو د خپل هېواد دفاع وکولی شي، بلکه د وطن ځخه د دفاع په خاطر پرې جهاد فرض شوی، او هغه ځوک چې د هېواد ځخه په دفاع کې وژل کيږي شهيد ورته ويلی شي.

قرآن کريم هم پدې ټينګار کړی چې د انسان مينه د وطن سره ځرګنده، تردی چې د انسان د خپل وطن ځخه شړل پدې معنا ده لکه يو انسان چې و وژني، ځکه په وژلو سره هم انسان د نورو ژوندیو انسانانو له منځه ايستل کېږي، الله تعالی فرمايي: **وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِن دِيَارِكُم مَّا فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ ۖ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا (66). ژباړه: که موږ هغو ته حکم کړی وای چې خپل ځانونه ووژنئ يل له خپلو کورونو ځخه ووځئ، نو له هغو ځخه به ډيرو لږو کسانو پرې عمل کړی وای، په داسي حال کې کوم نصحيت چې هغو ته کيږي، که پر هغه يې عمل کړی وای، نو دا به ورته د ډير ښه والي او د زياتي ډاډيني موجب وای.**

هغه وعدی او مواثيق چې د بني اسرايلو ځخه اخيستل شوي، پدې ټينګار کوی چې د خپل وطن او کلی کور ځخه ايستل د ويني د تويلو په معنا دی او انسان د ژوند ځخه دمحرومولو په معنا دی. الله تعالی فرمايي: **وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا تَسْفِكُونَ دِمَاءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم مِّن دِيَارِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ (84) ثُمَّ أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِم بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَإِن يَأْتُوكُمْ أُسَارَىٰ تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ ۚ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ ۚ فَمَا جَزَاءُ مَن يَفْعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰ أَشَدِّ**

الْعَذَابِ ۗ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ(85) . ژباړه: او (اې بنو اسرائيلو ياد کړئ) هغه وخت چې موږ ستاسي څخه کلکه ژمنه اخيستي وه چې په خپلو منځو کې يو دبل وينې مه تويوئ او مه يوبل له کوره بې کوره کوئ، بيا تاسي ددې اقرار کړئ ؤ او تاسي پخپله پدې شاهدان ياست(۸۴) خو نن همدا تاسي ياست چې خپل وړونه وژنئ، خپل ځينې ورورنه بې کوره کوئ، د ظلم او زياتي په کولو د هغو په خلاف ډلي جوړوئ، او کله چې په جګړه کې ونيول شي، ستاسي په لاس کې بنديان شي، نو د هغو د خوشي کولو لپاره د فديې لاري برابروئ، پداسي حال کې چې له کورونو څخه د هغو ايستل لا له سره په تاسي حرام ول، نو ايا تاسي د کتاب په يوه برخه ايمان راوړئ او په بله برخه يې کافران کيږئ؟، نوستاسي څخه چې کوم خلک داسي وکړئ، د هغو سزا به له دی پرته نوره څه وي چې د دنيا په ژوند کې ذليل او خوار اوسيږي او په اخرت کې به د ډير سخت عذاب په لوري ور وګرځول شي؟، الله ستاسي ددې کړنو څخه بې خبره نه دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم هم مونږ ته د وطن سره مينې درس راکړی کله چې رسول الله يثرب ته مهاجر شو، په هغه وخت کې د مکې مکرمې سره خپله مينه څرګنده کړه، د عبدالله بن عدی بن حمراء رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله وويل: رأيت رسول الله صلي الله عليه وسلم واقفاً على الحزورة، ويي ويل: والله إنك اخير أرض الله، وأحبُ أرض الله إلى الله، ولولا أني أُخرجتُ منكِ مَاخرجتُ. ژباړه: **په الله قسم دی چې د الله بهترينه ځمکه يې او الله تعالى ته ترټولو ګرانه ځمکه يې، که چيرته زه دوي نه وی شړلی زه به له تا څخه وتلی نوم.**

د عبد الله بن عباس رضی الله تعالى عنه څخه روايت دی چې: رسول الله وويل: ما أطيبكِ مِن بلدٍ، وأحبكِ إلي، ولولا أن قومِي أخرجوني منك ما سكنتُ غيركِ[1]. **ژباړه: د ټولو ښارونو ښايسته يې، او ماته ډير ګران ښار يې، که چيرته خپل قوم زه درنه شړلی نوی، په بل ځای کې به می زندګي نوای کړي.**

د د انسان او د وطن سره اړيکه او مينه څرګنده وي، د وطن څخه د دفاع شعور په هره زمانه کې او ټولو ملتونو کې و، په مختلفو کلتورونو، ټولونو او ادبياتو د وطن مينې لپاره پراخه ساح ورکړل شوی، چې د وطن سره مينه او محبت پکې څرګنديږي، ځکه د هغه ځمکې سره د دوي مينه وي چيرته چې پيدا شوی او خاپوړي کړي وي، په ډيرو ادبي کتابونو کې د هغه چا بيان کيږي چې وطن سره يې په اخلاص مينه کړی وي، مرګ ته يې د ازادی او کرامت په ساتلو ځان تيار کړی وي، همدا ډول په ترانو او سندرو کې خلک په جنګونو کې د وطن څخه دفاع ته هڅوي، ملتونه هر وخت د خپلو پخوانيو هغه يادښتونو يادونه کوي چې د ملت وطني روحيه لوړه وساتي، محصلينو او زدکوونکو ته د

[1] أخرجهما الترمذي في جامعة – كتاب المناقب – باب فب فصل مكة، الحديث ٣٩٢٦،٣٩٢٥، وقال فيهما: حديث حسن صحيح غريب.

وطن مینه او د هېواد د نومیالیو په هکله معلوات ورکول کیږي، همدا ډول د هېواد بیرغ، ملي ځلي او داسي نور ځایونه[۲].

دا پدیده په عربانو کې لا د مخه موجوده وه، د دوي په شعر کې ښکاري چې د وطن مینه یې په سندور کې ښکاریدله، عربانو به په خپلو وطنونو فخر کولو، پدې برخه کې ابن رومي چې په کال ۲۳۸هـ کې وفات شوی وایي: په شعر کې د خلکو لخوا وطن سره داسي څرګنده کړی: و حبب أوطان الرجال إليهمُ مآربُ قضّاها الشبابُ هنالكا

إذا ذكروا أوطانهم ذكرتهم عهود الصبا فيها فحنّوا لذالكا

د پخوانیو عربانو دا عدت و چې سفر به یې کولو د خپل وطن خاوره به یې ځانونو سره اخیستل بوي کوله به یې او په اوبو کې به یې اچوله چې اوبه به یې څښلی[۳].

هېوادوالي پدې معنا ده چې ټول هېوادوال په حقوقو کې سره برابر دي:

هیوادوالي په ټولو هغه وګړو تطبیق کېږي چې په یوه هېواد کې ژوند کوي او د دوي ترمنځ کوم توپیر نشته، نو باید په حقوقو کې د دوي ترمنځ مساوات موجود وي، ځکه دوي ټول د یوه هېواد وګړي دي، د ټولو وګړو حقوقو له همدې هېواد څخه سرچینه اخلي، همدا ډول هغه آیاتونه چې مخکې تلاوت شول دلته تطبیق کېږي چې د یوه هېواد وګړي د همدغه ملت خلک دي او د دوي ترمنځ کوم توپیر نشته.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوه ملت مثال داسي ویلي لکه ټول چې په یوه کشتي کې سپاره وي چې دوه پوړه لري، د لاندې پوړ خلک که اوبو ته ضرورت لري باید د پاس پوړ خلکو له لاري اوبه ترلاسه کړي، که چیرته د لاندې پوړ خلک ووایي چې مونږ په خپل پوړ کې سوری کوو له همدې ځایه اوبه راخلو د پاس پوړ خلکو ته کوم ضرر نه رسیږي، رسول پدې ځای کې وایي: که چیرته د پاس پوړ خلک دې کار ته پرېښودل شي د کشتی ټول سپاره خلک به هلاک شي، که چیرته یې هغوی سره مرسته وکړه ټول به وژغورل شي[٤].

هرکله چې رسول الله مدیني ته ورسیدو قانون یې جوړ کړ ترڅو د مسلمانانو ترمنځ اړیکې تنظیم کړي، همدا ډول د مسلمانانو او غیر مسلمانان ترمنځ هم اړیکې تنظیم کړي، دا قانون د مدیني په وثیقه پیژندل شوی، تر دې چې د هېوادوالو ترمنځ په حقوقو کې دومره مساوات و چې د رسول الله په زمانه کې اسلامي دولت د نصاراو سره د ضرورت په وخت کې مرسته کوله ترڅو خپل عبادت ځایونه جوړ کړي او یا خپل عبادت ځایونه ورغوي، په نبوي میثاق کې راغلي: که چیرته دوي د خپلو عبادت ځایونو

---

[۲] الموسوعة العربية، مادة: الوطنية.

[۳] شرح نهج البلاغة (۹۱/۱).

[٤] اخرجه البخاری فی صحیحه – کتاب الشراکة – باب هل یقرع في القسمة والإستهام فیه (۱۳۹/۳) رقم (۲٤۹۳).

ترميم ته ضرورت پيدا شو، يا بل څه دنياوي او ديني ضرورت ورته پيدا شو، چې د مسلمانانو مرستې ته ضرورت ولري کومک او مرسته دې ورسره وکړي، دا کار نصاراو سره د قرض په ډول نه کيږي، بلکه د دې لپاره چې هغوي سره مرسته وکړي ترڅو خپلې ديني چاري تنظيم کړي، څکه چې رسول الله ورسره وعده کړې وه، د الله تعالى او د رسول الله منت وربانديې وي.

آن په مالي او اقتصادي مسايلو کې لکه: خراج او ماليه، د رسول الله په وخت کې د نصاراو سره دا وعده شوې وه چې د خپل وس او طاقت مطابق ماليه به ورکوي کله چې دوي ځمکې کري ابادي کوي او ميوي ترلاسه کوي، د خپل وسه نه زيات به نه ورڅخه اخلي، د خراج او ماليې اخيستونکي به تيرې نه ورسره کوي...

د هېوادوالی ټول حقوق چې اسلام غير مسلمانانو ته په اسلامي دولت کې ورکړي د مسلمانانو سره مساوي ول، څه چې مسلمانانو اخيستل دوي هم اخيستل، او هرڅه چې مسلمانانو دولت ته ورکول دوي هم ورکول. د نفس د ساتل، د ويني ساتنه، د مال او ناموس ساتنه، د عبادت ځايونو ساتنه، او د آزادی درلودل، دا ټول د هېوادوالی په بنسټ او د اسلامي دولت او امت په ټولنه کې د ژوند کولو پر اساس، دا کارونه په ټولو ونوالو لازم ول، هغه که مسلمان و او ياهم غير مسلمان، دغه وجايبو او يا دندو په برخه کې د رسول الله عهد داسې ليکل شوې چې: پدوي باندې هغه څه لازم و چې د دوي په دين کې هم لازم ول، لکه: هيڅوک د دوي له دوښمن سره د مسلمانانو پر ضد مرسته نشې کولای هغه که په پټه وي او ياهم په څرګنده، خپلو کورونو کې به د مسلمانانو دوښمن ته ځای نه ورکوي، د مسلمانانو دوښمن سره به هيڅ ډول مرسته نکوي، نه د وسلې، نه د آسونو او نه د عسکرو، د مسلمانانو څخه به معلومات نه پټوي، او د مسلمانانو معلومات به د دوښمن سره نه شريکوي.

همدا ډول نصاراو ته رسول الله صلى الله عليه وسلم ديني آزادی ورکړې وه، په هغه معاهده کې راغلی و چې: هيڅ نصراني به دی ته نه مجبوريږي چې په زور سره پرې اسلام ومنل شی. الله تعالى فرمايي: **وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ ۖ وَقُولُوا آمَنَّا بِالَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَأُنْزِلَ إِلَيْكُمْ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ [العنكبوت](46). ژباړه: او له اهل کتابو سره بحث مه کوئ، خو په غوره ډول پرته له ظالمانو څخه يې، او هغو ته ووايئ چې موږ پر هغه کتاب باندې ايمان راوړيدي چې موږ ته ليږل شويدی او په هغه کتاب باندې هم چې تاسې ته ليږل شوی ؤ، زموږ خدای او ستاسې خد ای ايکی يو دی او موږ د هماغه مسلمانان (فرمان منونکي يوو.**

د دوي سره په ترحم سره چلند کولو، هرڅای به چې ول چا بد نه ورته رسول، که د هېواد په هره برخه کې هم ول...) بلکه د وطنوالی په حقوقو کې په کامل ډول مساوي ول، هر هغه څه چې مسلمانانو کول دوي هم کول، او هرهغه څه چې مسلمانانو ته ورکول کيدل دوي ته هم ورکول کيدل، تر څو مسلمانانو په ورکړه او اخيستنه کې برابر

وي. اسلامي دولت دا معامله فقط د نصاراو او يهودو سره نه کوله، بلکه آن هغه د وضعی اديانو پيروانو سره هم همدغسي معمله کيدله لکه مجوس او داسي نور اديان.

کله چې غربيانو هېوادوالی او د هغې حققو د دين په له منځه وړلو سره وپيژندله، دا وروسته د دې چې سيکولران په کنيسه برلاسی شول، نږ په نتيجه کې هېوادوالی په سيکولر دول راغله، ولي اسلام هغه دين دی چې هېوادوالی تاسيس کړی، شريعت يې حقوق ورته ټاکلی، او د همدغه حقوقو د ساتنی ضمانت يې ورکړی، تر څو داسي نوي چې د مرستې په دول وي چې يو حاکم يې ورکړي او بل حاکم يې منعه کړي[٥].

د هېوادوالی يا تبعيت اساس او بنسټ

د ريښتينې هېوادوالی لپاره ځينې بنسټونه دي چې د هغې پرته نتيجه او ګټه نلري:

(١) د اسلامي اخلاقو پيدا کول، د بشري حقوقو رعايت کول، د والدينو او اقاربو د حقوقو څخه واخله د ګاونډيانو او ملګرو تر حقوقو پوري، د حقوقو او عامه ټولګټو ساتنه او د خلکو ترمنځ د اطمنان او امنيت ټينګول ترڅو د دوي مالونه او نفسونه په امن کې وساتل شي.

(٢) د وعدې پلي کول او د ټرونونو احترام: دا هغه غوښتنه ده چې قرآن کريم پرې ټينګار کړی، الله تعالی فرمايي: **وَإِنِ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ [الأنفال] (72). ژباړه: هو که هغوی د دين په باب ستاسي څخه مرسته وغواړي، نو د هغوی مرسته کول پر تاسی فرض دی، خو د يو داسي قوم پر خلاف نه چې له هغه سره ستاسي ټرون وي تاسي چې څه کوئ الله هغه وينې.**

(٣) د وګړو ترمنځ عدل: دا ترټولو مهم اساس او رکن دي، د ټولو قواعدو اساس د خلکو سره په عدالت معامله کول دي، د دی اساس څخه په هيڅ صورت نشی تيريدلی، الله تعالی فرمايي: **وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَن صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَن تَعْتَدُوا ۘ وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (2). ژباړه: او ګوري يوې ډلې چې ستاسي لپاره مسجد حرام لاره بنده کړيده، نو پر هغې ستاسي غوسه دي تاسي دومره تاوځن نه کړئ، نهٔ! کوم کارونه چې د نيکۍ او خدای پالنې دي، په هغو کې له ټولو سره مرسته وکړئ، او کوم کارونه چې د ګناه او تيري وي، په هغو کې د هيڅا ملاتړ مه کوئ، د الله څخه وويريږئ د الله عذاب ډير سخت دی.**

همدا رنګه الله تعالی فرمايي: **وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا ۚ اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (8). ژباړه: د کومې ډلې دښمنې دي تاسي دومره را و نه پاروي چې له عدالت څخه واوړئ، عدالت وکړئ دا له پرهيزګاری سره**

[٥] ينظر: مجموعة الوثائق السياسية في العهد النبوي والخلافة الراشدة د/ محمد حميدالله، ص ٧٥.

نژدې اړيکه لري، د الله له ويرې سره کار کوئ، هر څه چې تاسي کوئ، الله پرې پوره خبر دی.

(۴) د هغه وطن سره مينه چې ته پکې اوسيږي، او هغه قوم سره مينه چې ورځخه يې: د هېوادوالی يو اساس دا هم دی چې هغه وطن سره مينه ولری چې ته پکې اوسيږي، همدا ډول د هغه قوم سره مينه چې ته ورسره ټراو لری، پدې کې شک نشته چې د الله سره مينه او د الله رسول سره مينه د ايمان لويه غوښتنه ده، ولې د دې مقصد دا ندې چې د بل شي سره مينه نشی کولای، رسول الله کله چې د مکې ځخه مهاجر شو دا وروسته لدې چې د مکې په چاپيريال کې په اسلام دائره راتينګه شوه، خلک پکې تنګ شول، رسول الله د مکې ځخه د تګ په وخت کې مخ وروړولو ويې ويل: زه والله که درځخه تللم، زه پدې پوهږم چې ته الله تعالی ته ترټولو ګران ښار يې، او الله ته ډېر ارزښت لري، که چيرته د مکې خلکو زه نه وی ايستلی زه به نوم درځخه تلل[۶].

کله چې صحابه کرام په مدينه منوره کې سختې تبې ونيول، بلال رضی الله عنه خپل آواز پورته کړو او ويل به يې:

ألا ليت شِعري هل أبيتَنّ ليلةً بوادٍ و حولي إذ خـرٌ وجليلُ
وهل أرِدن يوماً مياه مجنةٍ وهل تبدون لي شامةٌ وطفيلُ[۷]

پدې بيتونو کې بلال رضی الله عنه د مکې مکرمی يادونه تازه کوي، چې په هغې کې لوي سوب او هلته يې خپوړي کړی، پدې بيتونو کې بلال رضی الله د خپل زړه عطفه او د وطن مينه څرګندوي، سره د دې چې وطن يې د الله او د الله د رسول لپاره پريښې[۸].

د ښې هېوادوالی اړتياوې:
د هېوادوالی تعريف او اهميت د وطن تاريخ او مکانت او شخصيت يې، بهرنی سياست چې نړيواله ټولنه کې هم احترام ولري، همدا ډول د ټولنې هغه خصائص او ځانګړنی ولري چې ټول پکې ژوند وکړي، له همدې برخې: اعتدال، توازن، وسطيت، تراحم، همکاری، نيکي او تقوی، تر څو هرځوک پری افتخار وکړلی شي.
د وطنوالو په نفسونو کې د وطن د مينې کرل ترڅو په خپل وطن افتخار وکړي او د هېواد نوم اوچت کړي، ترڅو د خپل کرامت او خپلې خاوري ځخه دفاع وکړي، او ترڅنګ يې خپلې اسلامي نړۍ سره هم اړيکه ټينګه وي او د نړۍ نورو هېوادونو سره روابط ټينګ کړلی شي.
په هېوادوالو کې اسلامي ټولينز اخلاق پيدا کول، په همکاری صداقت، امانت او صبر وروزل شي.

---

[۶] اخرجه أبو يعلى الموصلي في أول مسند ابن عباس – رضي الله عنهما – (٦٩/٥) رقم (٢٦٦٢)، وقال: رجاله رجال الصحيح خلا محمود بن خداش وهو ثقه.
[۷] أخرجه البخاري في صحيحه – كتاب المرضى – باب من دعا برفع الوباء والحمي (١٢٢/٧) رقم (٥٦٧٧).
[۸] يراجع: آسس المواطنه فى القرآن والسنة والسيرة النبوية للشيخ/ محمد زاهد نذير أحمد نائب رئيس الجامعة الاسلامية فيض آباد باكستان والبحث منشور في كتاب الإرهاب وخطره على الإسلام العالمي سلسلة مجمع البحوث الاسلمية ص: ١٣١- ١٣٣ بحذف وتصرف.

د اسلام په رڼا کې هېوادوالو ته د دوی مسئولیتونو او حقوقو ورپېژندل.
هېوادوال دی ته هڅول چې کینا، بغض او خصومت د ټولنې د ګړ ترمنځه له منځه یوړل شي.
هېوادوالو ته د ځینې غلطو مفاهیمو وا د ځینې اشاعاتو په هکله چې په ځینې اسلامي ټولنو کې خپریږي، چې د اسلام پرضد کارول کیږي، خلکو ته باید هغه وعیې ورکړل شي ترڅو د آوازو او حقایقو ترمنځ توپیر وکړي شي او د معلوماتو د ریشتینوالی په هکله پلټنه وکړي.
هېوادوالو ته باید د حکومتیو اورګانونو د وظیفو یا دندو په هکله معلومات ورکړل شي، چې دوی باید د دې اورګانونو په مقابل کې څه مسئولیت لري، څنګه ورسره مرسته کولای شي، د هغه څه په هکله معلومات چې دولت کوم مسئولیاتونه آدا کوي او د هېوادوالو د ژوند د ښوالی لپاره څومره مرسته کوي[۹].
الله تعالي دي زمونږ هېوادونود هری بدي وساتی، او ستاسی دې کنفرانس ته د توفیق غوښتنه کوم.
وصلی الله علی سیدنا محمد وعلی آله وصحبه وسلم.

.

۹ يراجع: متطلبات المحافظة على نعمة الأمن والأستقرار في بلادنا (ص: ۱۲۱ ۱۲٤).